# فَیضانِ خاتُونِ جَنَّت رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا

**15-April-2021**



هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# فَيضانِ خاتُونِ جَنَّت رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ **(ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې كله جُمات ته داخل شئ، چې ياد مو وي نو د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښاك، اُوده كيدلو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د مخكښې نه مو د اعتكاف نِيَّت كړے وي نو دا ټول كارونه به هُم ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د **الله** پاک د آخري نبي **مُحَمَّدِ عَرَبِی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: چا چې په ما يو ځل دُرُود شريف اولوستو، **الله** پاك په هغه لس رحمتونه نازلوي، لس ګناهونه ئې مُعاف كوي او لس درجے ئې اوچتوي. **(1)**

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

[1] ...نِسائی، کتابُ السَّھْو، صفحہ:222، حدیث:1294۔

# د بیان اوریدلو نیتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **اَفۡضَلُ الۡعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ** (یعنې) رښتینے نِیَّت د ټولو نه افضل عمل دے.[1]

**اے عاشقانِ رَسُول!** یاد ساتئ! په نیك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي. د ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه کوو:

نِیَّت اوکړئ چې، ❀ نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بیان اورم. ❀ چې څومره کیدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت دوزانو [یعني د اَلتَّحِیَّات په شکل کښې] کښینم ❀ که قلم کاغذ درسره وي نو د اهمو نکاتو نوټ کولو نِیَّت هم اوکړئ.

**صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!    صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه!** د رَمَضَانُ المُبارَك د برکتونو ډکه میاشت ده، د دې مبارکې میاشتې یو یو ساعت بابرکته دے، خوش نصیبه دي هغه خلق کوم چې د ظاهري و باطني آدابو سره روژے نیسي، د زړه په خوشحالئ سره شل رکعته تراویح ادا کوي، د روژه ماتي او پیشمني برکتونه حاصلوي، او ډیر بدقسمته دي هغه خلق کوم چې په دې مبارکو ساعتونو کښې د نیکو کولو نه محرومه دي، روژے نه نیسي، تراویح نه ادا کوي، یا ئې پورا نه ادا کوي، د بخښنې او رحمت دې عظیمُ الشَّانه میاشت کښې هم د **اللہ** پاك او د هغه د حبیب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا والا کارونه نه

[1]…جامع صغیر، صفحہ: 81، حدیث: 1284۔

کوي. د دوارو جهانو سردار خوږ مَدَنــي آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك ارشاد فرمائي: زما اُمَّت به ذليله او رُسوا کيږي نه تر څو چې هغه د رَمَضان د مياشتې حق ادا کوي.“ عرض اوکړے شو: يَا رَسُوْلَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رَمَضان په حق ضائع کولو کښې د هغوئي ذليله او رُسوا کيدل څه دي؟ **خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **اُوفرمائيل: په دې مياشت کښې د هغوئي حرام کارونه کول.“ بيا ئې اُوفرمائيل: چا چې په دې مياشت کښې زِنا اوکړه يا ئې شراب اوڅښل نو د راروان رَمَضان پورې اللّٰه پاک او څومره چې آسماني فرښتے دي ټولې به په هغه لعنت کوي پس که دا کس د راروان رمضان حاصلولو نه مخکښې مړ شو نو ده سره به هيڅ داسې نيکي نه وي کومه چې دا د جَهنَّم د اور نه بچ کړے شي. پس تاسو د رَمَضان د مياشتې په باره کښې اويَريږئ ځکه چې څنګه په دې مياشت کښې د نورو مياشتو په مُقابَله کښې نيکئ زياتولے کيږي [يعني زيات ثواب ورکولے کيږي] هُم دغسې د ګناهونو مُعامَله هُم ده.“** [يعني د ګناهونو سزا هم زياتيږي]. **(1)**

**اللّٰه** پاك دِ مونږ ټولو ته د رَمَضَانُ الْمُبارَك مياشت په ښه طريقه، د **اللّٰه** پاک د رضا په کارونو کښې د تيرولو، د يو يو ساعت د قدر کولو، په نيکو، عبادتونو، ذِکر و فِکر کښې، د قبر يادولو، د مدينے منورے په يادونو کښې، د مور و پلار ادب کولو کښې، خپلو خپلوانو سره خير ښيګړه کولو کښې، د ګاونډيانو حقونه دا کولو، د غريبانو مدد کولو او د رَمَضَان د فيض نه ځولئ ډکولو کښې د تيرولو توفيق را عطا کړې. **اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!		صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** 3 رَمَضَانُ الْمُبارَك د خوږ نبــي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[1] ...**معجم صغير**، جلد:9، صفحه:60، حديث:1488۔

د خوږې لُور، سَیّده کائنات، خاتونِ جنَّت، حضرت فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د عُرس ورځ ده، نن به د حضرت فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د سیرتِ پاک د یو څو واقعاتو اوریدلو سعادت هُم حاصلوو. راځئ چې د اِیمان نه ډك یو حکایت واورو:

## فرښتے دانے میده کولو د پاره حاضرې شوې

حضرت اُمِّ اَیمَن رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا صحابیه ده، هغه د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د والد محترم حضرت عبدُ الله رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ وینزه وه، بیا د هغوئي د وفات نه پس په میراث کښې د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې راغله، د خوږ مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ماشوم والي کښې حضرت اُمِّ اَیمَن رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ډیر زیات خدمت سعادت حاصل کړے دے، ځکه به حُضُورِ اقدس صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیل چې: حضرت اُمِّ اَیمَن رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا زما دویمه مور ده. (1)

حضرت اُمِّ اَیمَن رَضِیَ اللہ عَنۡہَا فرمائي: یو ځل د سختې ګرمۍ ورځې وے، د رَمَضَانُ المُبارَك میاشت وه او د غرمې وخت وو، زه د حضرت فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہ عَنۡہَا کور ته لاړمه، دروازه بنده وه، او د دننه نه د میچنې ګرځیدلو آواز راتلو.

ښکواني دور کښې به دانے وړه کولو د پاره د کانړي میچنه وه او هغه به ئې په لاسونو تاوهله، د میچنې ګرځیدو آواز مطلب دا وو چې حضرت فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا په کور کښې موجوده ده او میچنه تاوهي خو مُعامَله د دې برخِلاف وه، حضرت اُمِّ اَیمَن رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د دروازے په چاؤ کښې اوکتل نو حیرانه شوه چې میچنه ګرځي او دانے وړه کیږي، او ورسره حَسَنَینِ کَرِیمَین (یعني امام حَسَن او امام حُسَین) رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا په ځانګو کښې آرام کوي او ځانګو هم ځانګي خو حضرت فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د میچنې خوا ته په زمکه

---

[1]...اصابه، جلد:8، صفحه:359۔

آرام فرما ده. حضرت اُمِّ اَيمَن رَضِیَ اللہُ عَنْہَا فرمائي: زه ډيره حيرانه شوم چې ميچنه څنګه پخپله تاويږي؟ او د حَسَنَينِ کَرِيمَينو رَضِیَ اللہُ عَنْہُما ځانګو پخپله څنګه ځانګي؟ زه د خپلې حيرانتيا معلومولو د پاره په غيبو خبردار مَدَني تاجدار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضره شوم او عرض مې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! فاطمةُ الزَّهراء آرام فرما ده خو ميچنه هم تاويږي او ځانګو هم ځانګي؟ آخر مُعامَله څه ده؟ خوږ آقا مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے اُمِّ اَيمَن! سخته ګرمي ده، روژه ده، فاطمه روژه نيولې ده، **الله** پاك په فاطمه باندې خوب غالب کړو چې لږ ساعت آرام اوکړي او هغې ته د ګرمۍ سختي محسوس نه شي او فرښتے ئې را اوليږلې هغوئي ميچن هُم تاوهي او ځانګو هُم ځنګوي. (1)

وہ خاتونِ جنّت معصوم حُوریں باندیاں جن کی
مَلک جنّت سے آ کر پیستے تھے چکیاں جن کی

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**اے عاشقانِ رسول!** غور اوکړئ! سخته ګرمي او ګرمي هم د عرب شريف، د روژے مياشت ده او فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہَا روژه نيولې ده. معلومه شوه چې که رَمَضَانُ المُبارَك په ګرمۍ کښې راشي او که په يخنۍ کښې راشي، د دې روژے فرض دي او لازمي نيول دي. د صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوان او زمونږ په طبيعت کښې غټ فرق دا هم دے چې صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوان به د نيکۍ، جَنَّت، د ثوابِ آخِرت او د رضائے اِلٰهي حِرص لرلو خو چې څنګه د مصطفٰی جانِ رحمت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ظاهري ژوند مبارك نه زمانه لرې کيږي دغسې مونږه سهولت خوښوونکي جوړيږو، روژے نيولو

---

[1]...سفينه نوح، حصه: دوم، صفحه:35۔

والا د ګرمۍ روژے هُم نیسي خو عموماً خواهش ئې دا وي چې کاش! رَمَضَانُ المُبارَك په یخنۍ کښې راتلے نو آساني به وے. د صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان طبیعت د دې برخلاف وو، هغوئي (عَلَيْهِمُ الرِّضْوان) به د ګرمۍ روژے ډیرې زیاتې خوښولې، اَمِیرُ المُؤمِنِین حضرت عَلِـيُّ المُرتضٰی رَضِیَ اللهُ عَنْه فرمائي: زما درې څیزونه ډیر زیات خوښ دي، په هغې کښې یو **صِیَامُ الصَّیْف** یعني د ګرمۍ روژے نیول دي. [(1)]

## د ګرمۍ د روژو فائدے

که اوګورئ! نو د ګرمۍ د روژو ډیرې فائدے دي: ❁روژه نیول عبادت دے او په ګرمۍ کښې مونږ ته د زیات وخته پورې د روژے نیولو سعادت نصیب کیږي، ❁ په ګرمۍ کښې عموماً د **15** نه **16** ګینټو روژه وي خو په یخنۍ کښې عموماً د **11** نه **12** ګینټو روژه وي، یعنې په ګرمۍ کښې مونږه د شپې او ورځې اکثره حصه په روژه یُو او په عبادت کښې ئې تیروو او په یخنۍ کښې کمه حصه د روژے په عبادت کښې تیریږي، ❁ د روژه دار اندامونه تسبیح کوي، نو د ګرمۍ په روژو کښې به زمونږ اندامونه د زیات وخته پورې تسبیح کوي، ❁ د روژه دار د پاره د دریاب مهیان د بخښنې دُعاګانې کوي، د ګرمۍ په روژو کښې مونږ ته د زیات وخته پورې د بخښنې دا دُعاګانې نصیب کیږي، ❁ صبر کوونکي ته د **الله** پاك مدد نصیب کیږي، په قرآنِ مجید کښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِیْنَ ﴿۱۵۳﴾<br>(پاره:2، البقرة:153) | **مفهوم ترجمه کنز الایمان:** بیشکه الله د صبر کوونکو سره دے. |

[1]...الرِّیَاضُ النَّضرة، الباب الرابع، جلد:1، صفحه:52۔

د ګرمۍ په روژو مونږه د ډير وخته پورې عملي طور صبر کوو او بنده چې ترڅو پورې صبر کوي، د آيتِ کريمه مطابق تر هغه وخته پورې بنده ته د **الله** مدد نصيب کيږي، ❁ د ګرمۍ د روژو يوه فائده دا ده چې په ګرمۍ کښې د لوږې تندې احساس زيات شي، او چې د لوږې تندې احساس زيات شي، نو بنده ته به د غريبانو د غريبۍ او لوږې احساس هُم کيږي، چې د لوږې تندې احساس زيات شي نو د بدن زکاة به هُم زيات اوځي، او د لوږې تندې احساس چې زيات شي نو سرکش نفس به هُم په قابو کښې راشي، او نفس چې څومره په قابو کښې وي، عقل هغه همره بيدار وي، په زړه کښې هغه همره نورانيت زيات شي، او په هغه حساب د زړه تورالے لرې شي، څومره چې په زړه کښې نورانيت زياتيږي، هم هغه همره **الله** پاك طرف ته رجوع زياتيږي، په عبادت کښې رغبت زيات نصيب کيږي، د ګناهونو نه نفرت، تقوٰی او پرهيزګاري به هُم په هغه حساب نصيب کيږي. حضرت بايَزِيد بسطامي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ يو ځل د **الله** پاك په بارګاه کښې عرض اوکړو: مولٰی! زه ستا قُرب [يعني نزديکت] څنګه حاصلولے شم؟ د غيب نه غږ اوشو: **اُتْرُكْ نَفْسَكَ فَتَعَالِ** خپل نفس پريږده او راځه!

**اے عاشقانِ رَمَضان!** معلومه شوه چې بنده خپل نفس څومره زيات په قابو کښې ساتي، هغه همره زيات به ورته قُربِ اِلٰهي نصيب کيږي او د ګرمۍ په روژو کښې د ډير ساعته پورې نفس قابو کول او د خوراك څښاك او خواهشاتو نه حصارول وي، د **الله** پاك د رحمت نه اُميد دے چې د ګرمۍ روژے نيولو سره به د **الله** پاك زيات قُرب نصيب کيږي.

لِهٰذا د ګرمۍ روژے هم په شوق نيسئ، او د دې په فائدو نظر ساتئ نو **اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيْم!** مشقت برداشت کول به آسان شي، د دې سره سره د شيخِ طريقت، امير اهلسنت حضرت علامه مولانا محمد الياس عطّار قادِری رضوي ضيائي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه رساله

"گرمی سے حفاظت کے مدنی پھول" اولولئ! په دې کښې د گرمۍ د روژو په آسانۍ سره د نيولو طريقے او روحاني وظيفے ليك دي. اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! آسانه به شي. **الله** پاك دِ مونږ ټولو ته تقویٰ او پرهيزګارۍ سره د روژو نيولو او د ډيرو ډيرو عبادتونو کولو سره د رَمَضَانُ الْمُبَارَك تيرولو توفيق را عطا کړې. اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

پئے حسین و حَسن، فاطمہ، علی حیدر | ہمارے بگڑے ہوئے کام دے بنا یارَبّ!
ہماری بگڑی ہوئی عادتیں نکل جائیں | ملے گُناہوں کے امراض سے شِفا یارَبّ!

**ترجمه:** يا **الله** په برکت د حُسين و حسن، فاطمه او علي حيدر ، زمونږه وران کارونه سم کړې! زمونږه بد عادتونه ختم کړې، مونږ ته د ګناهونو د مرضونو نه شِفا راکړې!

## د سَيِّدَه فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہَا مختصر تعارُف

**اے عاشقانِ رمضان!** په بيان شوي حکايت غور اوکړئ! د حضرت فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہَا څنګه اوچت شان دے چې فرښتے به د هغوئي د خدمت د پاره حاضريدلې.

وہ خاتونِ جنّت معصوم حُوریں باندیاں جن کی
مَلَک جنّت سے آکر پیستے تھے چکیاں جن کی

**د شعر مفهوم:** هغه خاتونِ جَنَّت چې معصومې حُورې ئې وينزې دي، او فرښتے به د جَنَّت نه د هغې رَضِیَ اللہُ عَنْہَا د دانو ميده کولو لپاره راتللې.

حضرت سَيِّدَه فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہَا زمونږ د خوږ نبـي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه کشره او نازَولي شهزادګۍ ده، د يو قول مطابق هغوئي د اعلانِ نُبُوَّت په وړومبي کال په مکه مکرمه کښې پيدا شوي وه، چې کله د خوږ آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عمر مبارك يو څلويښت کاله وو، او د يو قول مطابق د هغې رَضِیَ اللہُ عَنْہَا پيدائش د اعلانِ نبوت نه پينځه

کاله مخکښې شوے وو. [1] د هغې نوم الله پاك "فاطمه" کيښودو. په حديثِ پاك کښې دي: بيشکه الله پاك زما د لور نوم فاطمه کيښودو ځکه چې الله پاك هغه د دوزخ نه لرې جُدا کړي ده. [2] او يو بل حديث شريف کښې دي: د دې نوم فاطمه کيښودے شو ځکه چې الله پاك دا او د دې سره عقيدت ساتونکي د دوزخ نه آزاد کړي دي. [3]

*جو جانا خُلد میں ہو پائے زہرہ سے لپٹ جاؤ*
*جسے کہتے ہیں جنت 'مُلک ہے خاتونِ جنت کا* [4]

**مفهوم:** چې خوك جنت ته تلل غواړئ نو د فاطمه قدم اونيسئ [يعني د هغې رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا اِتّباع اوکړئ]، وائي چې جَنَّت د خاتونِ جَنَّت مُلك دے.

"بَتُول"او"زَهراء" د سيده فاطمه مشهور القابونه دي، مشهور **مُفسّرِ قرآن،** حضرت مفتی احمد يار خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: ولې چې فاطمه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا په دُنيا کښې د اوسيدلو باوجود د دُنيا نه جدا وه، لِهٰذا "بَتُول" لقب ئې شو. [5] په يو بل مقام کښې مفتي صاحب رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ ليکي: هغه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د جنت غوټېٔ وه تر دې چې په هغې رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا داسې کيفيت کله هُم نه دے راغلے کوم چې په عامو زنانو راځي او د هغې رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د بدن نه به د جَنَّت خوشبو راتلله کومه به چې حُضُورِ اقدس صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بوئيوله، په دې وجه د هغې رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا لقب "زَهراء" شو يعني د جنت غوټېٔ. [6]

د سَيِّدَه فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا فضائل د آسمان د ستورو په شان بيشميره دي. په

---

1 ...شَرۡحُ الزَّرۡقَانی، الفصل الثانی، جلد:4، صفحه:331۔
2 ...سَبُلُ الۡهُدٰی، ابواب:فضائل آل رسول، الباب التاسع، جلد:11، صفحه:52۔
3 ...کَنۡزُ الۡعُمَّال، کتاب:الفضائل، جزء:12، صفحه:50، حديث:34222۔
4 ...ديوان سالک، صفحه:33۔
5 ...مرآة المناجيح، 452/8، ملتقطاً۔
6 ...مرآة المناجيح، 453/8، بتغير قليل۔

بُخاري شريف كښې دي، سركارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: **هِيَ بَضْعَةٌ مِنِّي يُرِيبُنِي مَا أَرَابَهَا وَيُؤْذِينِي مَا آذَاهَا** يعني فاطمه زما د بدن ټكړه ده، كومه خبره چې په هغې بده لګي هغه په ما هم بده لګي او كوم څيز چې هغې ته تكليف وركوي هغه ما ته هم تكليف راكوي. (1)

په سن 2 هجرئ كښې د فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہَا نكاح د مولا علي شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره اوشوه او په هُم هغه كال ذُوالحجةِ الحرام كښې ئې واده اوشو. د هغې رَضِیَ اللہُ عَنْہَا درې ځامن او درې لونړه وې. د هغې رَضِیَ اللہُ عَنْہَا د ځامنو نومونه دي: حَسَن، حُسَين او مُحسِن رَضِیَ اللہُ عَنْہُم او د لونړو نومونه ئې دي: زَينَب، اُمِّ كلثُوم او رُقيه رَضِیَ اللہُ عَنْہُنَّ. (2)

د خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وِصالِ ظاهري نه شپږ مياشتې پس سَيِّدَه فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہَا په دريم رَمَضَانُ المُبارَك 11 هجري كښې وفات شوه. د هغوئي مزار مبارك په جَنَّتُ البَقِيع كښې دے. (3) د **الله** پاك دِ په هغې رحمت وي او د هغې په بركت دِ زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي. **اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

نبی کی لاڈلی، بیوی ولی کی، ماں شہیدوں کی
یہاں جلوہ نبوت کا، ولایت کا، شہادت کا

**مفهوم:** د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نازَولې شهزادګۍ، د شيرِ خُدا بي بي، د شهيدانو مور، دلته نظارے دي د نُبُوَّت، وِلايَت او شَهادَت.

## د سَيِّدَه فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہَا دوه اعلیٰ اوصاف

---

1...بخاری، کتاب: النکاح، صفحہ: 1344، حدیث: 5230۔

2...الاکمال فی اسماء الرجال، 718، فاطمۃ الکبری، صفحہ: 87۔

3...شرح الزرقانی، الفصل الثانی، جلد: 4، صفحہ: 336۔

**اے عاشقانِ رسول!** هسې خو د خاتونِ جنَّت فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا اوصاف او فضائل ډير زيات دي، علمائے کرامو د هغې رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا په اوصافو او فضائلو باندې کتابونه ليکلي دي، خو راځئ چې مونږه د هغې رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د دوه اعلٰی اوصافو اوريدلو او په هغې د ځان پوهه کولو کوشش اوکړو، په هغه دوو اوصافو کښې وړومبے وصف دے: د سَيِّدَه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا **فَقْر** او دويم د هغې رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د خير ښيګړې جذبه. سَيِّدَه کائنات رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا په **فَقْر** کښې هم کمال لرلو او په خير ښيګړې کښې هم ډيره مشهوره وه.

## فَقْر څه ته وائي؟

په عامه محاوره کښې لفظِ "**فَقر**" نه مُراد غريبي او مُفلسي ده، خو حضرت فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا مَعاذَ الله! په دې معنٰی فقيره نه وه، **الله** پاك دِ مونږه د بے ادبئ نه **محفوظه** اوساتي! په دې لحاظ سره خو د فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا نه بله اوچته مالداره څوك کيدے نه شي ځکه چې هغه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د مالكِ جَنَّت، صاحبِ کوثَر صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شهزادګئ ده، د جنَّت د بيبيانو سرداره ده، ځکه چې نن هم مونږه د هغې رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د بابا جان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دَر نه خورو، د هغوئي د درنه ټوله دُنيا آباده ده.

په اصل کښې فَقر د صُوفيائے کرامو يوه اِصطِلاح ده، د دې معنٰی ده: د ماسِوا الله نه (يعني د **الله** پاك نه علاوه د هر څيز نه) بےنيازه کيدل. حضرت ابوبکر شِبلـي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: که چا ته د دُنيا ټول دولت ميلاؤ شي او هغه دا [ټول دولت] په يوه ورځ کښې صدقه کړي، بيا د هغه په زړه کښې خيال راشي چې کاش! يو څو روپـۍ مې ترينه ځان له پاتې کړے وے نو داسې کس په فَقر کښې رښتينې نه دے.

د حضرت ابو علي دَقَّاق رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په خدمت کښې يو حقيقي فقير راغلو، هغه د ټاټ لباس اغوستے وو، د حضرت ابو علي دَقَّاق رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه يو شاګرد د خوش طبعئ [يعني

ټوقې] په طور فقیر ته اووئیل: دا ټاټ دِ په څو اخستے دے؟ هغه فقیر اووئیل: دا ټاټ ما د دُنیا په بدله کښې اخستے دے او ما ته اُووئیل شو چې د آخرت په بدله کښې ئې خرڅ کړه نو ما دا خرڅ نه کړو.

مطلب دا چې ما دا ټاټ د **اللّٰه** د رضا د پاره اغوستے دے، اوس د دې په بدله کښې دُنیا څه چې که جَنَّت هم میلاویږي نو پرې راضي نه یم ځکه چې ما ته جَنَّت جوړولو والا **اللّٰه** پاك پکار دے. **(1)**

دا دے اصل فقر، دا فقر چې کله بنده ته نصیب شي نو "مسلمان سره د خیر ښیګړې" جذبه د هغه په زړه کښې پخپله پیدا کیږي. سیده کائنات حضرت فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د دې معنې په لحاظ سره په "فقر" کښې کمال لرلو.

حضرت شیخ سلطان باهو رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي: د فَقر آخري درجے ته چې انسان اورسي نو " **فَنَافِی اللّٰه**" شي، بیا ئې حالت دا وي چې "**لَا يَحْتَاجُ اِلٰى رَبِّهٖ وَلَا اِلٰى غَيْرِهٖ**" یعنې بیا بنده نه د خپل ربّ نه د خپل ځان د پاره څه غواړي او نه د هغه علاوه د چا نه څه حاجت لري بلکه **اللّٰه** پاك ئې چې په کوم حالت ساتي په هغې خوشحاله اوسي. شیخ سلطان باهو رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه نور فرمائي: کوم خلق چې د فقر دې آخري درجے ته رسیدلي دي په هغوئي کښې د ټولو نه غټ نوم د خاتونِ جَنَّت فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا دے.

## د فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د خیر ښیګړې جذبه

حضرت امام حَسَن رَضِیَ اللہُ عَنۡه د خاتونِ جَنَّت رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا مشر شهزاده دے، هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡه فرمائي: ما به خپله والده محترمه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا لیدله چې د مسجدِ بیت په محراب (یعنې په

---

[1]...رساله قشیریه، صفحه:480۔

کور کښې د لمَانځه ادا کولو مخصوص ځائے) کښې به ئې د شپې لمُونځ کولو تر دې چې د سحر د لمَانځه وخت به شو. (1)

امام حَسَن رَضِیَ اللہُ عَنْہ نور فرمائي: والده محترمه رَضِیَ اللہُ عَنْہَا به د مسلمانانو نارينو او زنانو د پاره ډيرې دُعاګانې کولې خو د ځان د پاره به ئې څه نه غوښتل. ما عرض اوکړو: خوږې مورې! څه وجه ده چې تاسو د خپل ځان د پاره دُعا نه کوئ؟ اوئې فرمائيل: اَلْجَارُ ثُمَّ الدَّار يعني بچيه! اوَّل ګاونډ دے بيا کور دے.(2)

**سُبْحٰنَ الله! اے عاشقانِ رسول!** د دې حکايت نه دوه مدني ګلونه معلوم شو: (1) **وړومبے** دا چې د دې حکايت په رنړا کښې د حضرت فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہَا د فَقر حالت اوګورئ! ❁ د حضرت فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہَا کور مبارك په ظاهره ډير ساده وو، ❁ د هغې رَضِیَ اللہُ عَنْہَا په جامو کښې پيوندونه لګيدلي وو، ❁ د جَنَّت د بيبيانو سرداره ده خو ميچنه به ئې پخپله کوله، ❁ د کور کارونه به ئې پخپله کول، ❁ څو څو ورځې به ئې په کور کښې فاقه [يعنې لوږه] وه، د دې باوُجود به هغې رَضِیَ اللہُ عَنْہَا پورا شپه عبادت کولو، ټوله شپه به ئې لمُونځونه ادا کول خو د خپل ځان د پاره به ئې هيڅ نه غوښتل، دا دُعا به ئې نه کوله چې مولٰی! زما د کور لوَږه ختمه کړې، اوچت اوچت محلونه به ئې نه غوښتل، نوي نوي جامې به ئې نه غوښتلې، حالانکه د **الله** پاك په بارګاه کښې د هغې رَضِیَ اللہُ عَنْہَا د مقبوليت عالَم دا وو چې که هغې رَضِیَ اللہُ عَنْہَا صرف په زړه کښې خواهش کړے وے نو **الله** پاك به د خواهش نه زيات ورعطا کړے وے، خو هغې رَضِیَ اللہُ عَنْہَا به د ځان د پاره نه

---

1 ...مدارج النبوۃ، قسم پنجم، ذکر اولاد کرام، سیدہ فاطمہ الزہرا، 2/461۔

2 ...مدارج النبوۃ، قسم پنجم، ذکر اولاد کرام، سیدہ فاطمہ الزہرا، 2/461۔

غوښتل... ولې؟ ځکه چې د هغې رَضِیَ اللہُ عَنْہَا طبیعت دا وو چې "الله پاك به په څه حال ساتله، په هغې به خوشحاله وه."

دا ده هغه رُتبه، چې په حقیقت کښې ورته فَقر وائي.

(2) بیا په دې حکایت کښې **دویم مدني ګل** دا هم دے، چې اوګورئ! حضرت فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہَا به د خپل ځان د پاره هیڅ نه غوښتل، د دې مطلب دا نه دے چې ګنې د **الله** پاك نه به ئې سوال نه کولو، داسې نه ده، دُعا غوښتل خو عبادت دے، دُعا به ئې ضرور کوله خو د ځان د پاره نه بلکه د مسلمانانو د پاره، د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دردمند اُمَّت د پاره به ئې دُعاګانې کولې. سُبْحٰنَ الله!

| | |
|---|---|
| وہ ہمارے نبی، اُن کے ہم اُمَّتی | اُمَّتی تیری قسمت پہ لاکھوں سلام |
| تیرے حق میں دُعا، کرتی ہیں فاطمہ | اُمَّتی تیری قسمت پہ لاکھوں سلام |

بعضې وخت غریب سړے ډیر ارمان کوي چې: کاش! **الله** پاك ما ته هم ډیر مال راکړے وے نو ما به هم د غریبانو، ضروتمندو مدد کولے او نیکئ به مې ګټلے، د داسې خلقو د پاره په دې حکایت کښې پوره درس دے. د **الله** پاك ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ یُنْفِقُوْنَ ۳ (پارہ 1،سورۃ البقرۃ:3) | مفهوم ترجمه کنزالایمان: زمونږ د ورکړي شوي رزق نه زمونږ په لاره کښې ورکوي. |

په دې کښې لفظِ "**رِزق**" استعمال شوے دے،علمائے کرامو دې لفظ ته عامه معنٰی ورکړي دي، یعنې رِزق صرف مال ته نه وائي بلکه د **الله** پاك ورکړے شوے هر نِعمَت رزق دے او د **الله** پاك ورکړے شوے هر نِعمَت د الله په لار کښې خرچ کول صدقه ده. مثلاً ۞ **الله** پاك لاس راکړي دي،۞ په لاسو د لارې نه تکلیف ورکوونکے څیز لرې کول صدقه ده،۞ **الله** پاك ښپې راکړي دي، ۞ د دې په ذریعه د مسلمانانو د مدد د پاره

تلل صدقه ده، ❁ **الله** پاك شونډې راكړې دي، د موقعے په مناسَبَت مسلمانانو ته مُسكې كيدل صدقه ده، ❁ **الله** پاك علم راكړے دے، نورو ته علم زده كول صدقه ده، ❁ **الله** پاك هُنر راكړے دے، نورو ته هُنر زده كول صدقه ده، ❁ كوم نِعمَت چې **الله** پاك مونږ ته راكړے دے، هغه نِعمَت د **الله** پاك په لاره كښې، د مسلمانانو د خير ښيګړې د پاره خرچ كول صدقه ده.

او يو اهم خاص څيز كوم چې د سَيِّدَه فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہَا په كردار مبارك كښې شامل وو هغه دا چې كه مونږه نور څه نه شو كولے نو كم از كم مسلمانانو د پاره دُعا خو كولے شو، دا هم ښيګړه ده او د دې به هم **اِنْ شَآءَ الله!** ثواب ميلاويږي. مونږه عام طور په دُعا كولو كښې سُستي كوو، حالانكه په دُعا غوښتلو څه روپۍ خو نه خرچ كيږي، د دې باوُجود مونږه د نورو د پاره څه چې د خپل ځان د پاره هم ډيره كمه دُعا غواړو، كه مونږه د خپل ځان د پاره هم دُعا اوكړو او ورسره ورسره نور هم په خپلو دُعاګونو كښې ياد ساتو نو د دې به چې كوم اجر و ثواب مونږ ته ميلاوېږي، مونږه د هغې اندازه نه شو لګولے. زمونږ خوږ آقا مكي مدني مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: څوک چې د مسلمانانو نارينۀ او زنانۀ د پاره د بخښنې دُعا اوكړي، **الله** پاك به هغه ته د هر مسلمان نارينه او زنانه [د شمير] په بدل كښې يوه نيكي عطا كړي.[1]

**اے عاشقانِ رسول!** اندازه اوكړئ! د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام نه واخله تر اوسه پورې په كربونو مسلمانان دُنيا ته راغلي دي، صرف دومره كول دي: "**اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِیْ وَلِكُلِّ مُؤْمِنٍ وَ مُؤْمِنَةٍ**" (يا الله! زما او ټولو مسلمانانو نارينۀ زنانۀ بخښنه اوكړې) د دې په بركت به **اِنْ شَآءَ**

[1]...جامع صغير، صفحه:513، حديث:8419۔

اللّٰه! په اربونو نيکۍ په لاس راشي.

اللّٰه پاك دِ مونږ ټولو ته په کثرت سره د دُعا کولو توفيق را عطا کړي، رَمَضَانُ المُبارَك خو هسې هم اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د دُعا ګانو غوښتلو مياشت ده، په رَمَضَانُ المُبارَك کښې د روژه ماتي په وخت دُعاګانې قبليږي، د پيشمني په وخت کښې دُعاګانې قبليږي، مونږ له پکار دي چې په کثرت سره دُعاګانې اوکړو. اللّٰه پاك دِ توفيق راعطا کړي. اٰمِيۡن بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِيۡن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

راځئ چې د سَيِّدَه فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللهُ عَنۡہَا د فَقر، سخاوت او خير ښيګړې يو بل حکايت واورو: په تفسير خزائنُ العرفان کښې دي: يو ځل حَسَنَينِ کَرِيمَين رَضِیَ اللهُ عَنۡهُما بيمار شو نو حضرت علي، فاطمه او د هغوئي وينزې فِضَّه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم درې وارو حضراتو نذر اومنلو [يعني منښته ئې اوکړه] چې که اللّٰه پاك حَسَنَينِ کَرِيمَين رَضِیَ اللهُ عَنۡهُما ته شِفا ورکړه نو مونږ درې واړه به درې درې روژے نيسو، اللّٰه پاك حَسَنَينِ کَرِيمَين رَضِیَ اللهُ عَنۡهُما ته شِفا عطا کړه، نو حضرت عَلِـيُّ المُرتضٰى، حضرت فاطِمَةُ الزَّهراء او د هغوئي وينزې فِضَّه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم د نذر پورا کولو د پاره روژه اونيوله، حضرت عَلِـيُّ المُرتضٰى رَضِیَ اللهُ عَنۡه لږې شان وربشې راوړې چې ډوډۍ ترينه پخې کړي او روژه پرې ماته کړي، حضرت فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللهُ عَنۡہَا په اوَّله ورځ ډوډۍ پخې کړې، ډوډۍ ئې د روژه ماتي د پاره ايښودې وے، او د لمَر پريوتلو انتظار ئې کولو چې په دې کښې دروازه اوډبيده او يو مسکين غږ اوکړو: اے ساداتِ کرام! زه مِسکين يم! اوږے يم، دې حضراتو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم هغه موجوده ډوډۍ مسکين ته ورکړه او پخپله ئې په اوبو روژه ماته کړه، په دويمه ورځ ئې روژه اونيوله، ماښام شو، ډوډۍ تياره شوه، دسترخوان اولګيدو، د لمَر پريوتلو انتظار وو چې دروازه اوډبيده، غږ اوشو: زه يتيم يم! اوږے يم، دې حضراتو هغه موجوده ډوډۍ يتيم ته

وركړه او پخپله ئې بيا په اوبو روژه ماته كړه، په دريمه ورځ ئې روژه اونيوله، ماښام شو، ډوډۍ تياره شوه، دسترخوان اولګيدو، د لمَر پريوتلو انتظار وو چې بيا دروازه اوډبيده، غږ اوشو: زه قيدي يم! اوږے يم. په دريمه ورځ هم دې مباركو هستيانو ټولې ډوډۍ هغه سوالګر ته وركړې او پخپله ئې په اوبو روژه ماته كړه. (1) [او هيڅ ئې اونه خوړل او درې واړه روژے ئې صرف په اوبو ماتې كړې]

**سُبۡحٰنَ الله**! آلِ رسول رضی اللہ عنہم درې روژے اونيولې او درې واړه روژے ئې په اوبو ماتې كړې، د **الله** پاك د هغوئي دا عادت ډير خوښ شو او د سيپاره 29، **سورهٔ دَهر** آيت نمبر 8 او9 ئې نازل كړو:

| | |
|---|---|
| وَ يُطۡعِمُوۡنَ الطَّعَامَ عَلٰى حُبِّهٖ مِسۡكِيۡنًا وَّ يَتِيۡمًا وَّ اَسِيۡرًا ﴿۸﴾ اِنَّمَا نُطۡعِمُكُمۡ لِوَجۡهِ اللّٰهِ لَا نُرِيۡدُ مِنۡكُمۡ جَزَآءً وَّ لَا شُكُوۡرًا ﴿۹﴾ (پارہ29،سورۃالدھر:98) | مفهوم ترجمه كنزالايمان: او په خلقو طعام خوري د هغه [يعني **الله** په] محبت كښې، په مسكين او يتيم او قيدي باندې، او هغوئي ته وائي: مونږه تاسو ته خالص د **الله** د پاره طعام دركوو، ستاسو نه څه بدله يا شكرګزاري نه غواړو. |

بھوکے رہتے تھے خود، اَوروں کو کھلا دیتے تھے

کیسے صابر تھے محمد کے گھرانے والے

**اے عاشقانِ رسول!** رَمَضَانُ المُبارَك څنګه تيرول پكار دي؟ دا سُوال كيدے شي چې هر كال د رَمَضَان د مياشت ليدلو سره زمونږ په ذِهن كښې پيدا كيږي، د سَيِّدَه كائنات رضی اللہ عنہا د كور مبارك سبق آموز حكايت د دې سوال خومره ښكلے جواب وركړے دے چې رَمَضَانُ المُبارَك د صبر مياشت ده نو په صبر كولو تيرول پكار دي.

---

1 ...خزائن العرفان، پارہ29، الدھر، تحت الآیۃ:98، صفحہ:1073۔

که مونږه د غریبانو، یتیمانو، مسکینانو د خیر ښیګړې په جذبه د روژه ماتي او پیشمني څه ډشونه کم کړو، د روژه ماتي او پیشمني دسترخوان د سُنَّت په نِیَّت ساده اوساتو او هغه غریب او بے وسه خلق چې د ګرانئ په وجه بعضې وخت د کجورو اخستلو طاقت هم نه لري، رَمَضَانُ المُبارَك په ښه انداز کښې نه شي تیرولے، که مونږه د هغوئي مدد اوکړو، هغوئي سره خیر ښیګړه اوکړو نو څومره نیکئ به اوګټو او هغه هم په رَمَضَانُ المُبارَك کښې. **اللّٰه** پاك دِ د فاطِمَۃُ الزَّهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا په برکت مونږ ته د فَقر اختیارولو، **اللّٰه** پاك طرف ته د مُتَوَجِّه کیدلو، مسلمانانو سره د خیر ښیګړې کولو او د ګناهونو نه د بچ کیدلو او د رَمَضان ټوله میاشت په نیکو کښې د تیرولو توفیق راعطا کړې. **اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## ”فیضان ګلوبل ریلیف فاؤنډیشن“ پیژندګلو

**اے عاشقانِ رسول!** تقوٰی، پرهیزګارې حاصلولو او مسلمانانو سره د خیر ښیګړې ذِهن جوړولو د پاره د عاشقانِ رسول دیني تحریك دعوتِ اسلامي دیني ماحول سره وابسته شئ. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** دعوتِ اسلامي مونږ ته د همدردئ او خیر خواهئ بیشمیره موقعې راکوي. د دعوتِ اسلامي یوه شُعبه ”**فیضان ګلوبل ریلیف فاؤنډیشن(*FGRF*)**“ هم ده، د دې شُعبے تحت ۞ د ناڅاپي آفتونو په موقع باندې په سختو حالاتو کښې د مسلمانانو امداد کیږي، څنګه چې د کُرُونا په وجه د لاك ډاؤن په دوران کښې دې شُعبے تیر کال تقریباً **25 لکو خلقو باندې مال او خوراك** (یعني د خوراك، څښاك ضروري سامان) تقسیم کړے وو، د هغې ټول مالیت تقریباً اویا [70] کروړه روپۍ جوړیږي. ۞ دغه شان په ټول ملك کښې چې کوم ځائے حاجت دے، هلته کوهیان او سولر پمپونه وغیره

لګوي، د دعوتِ اسلامي دې شُعبے تر اوسه پورې تقريباً 400 نه زيات کوهيان او سولر پمپونه لګولي دي، ۞ **تهيليسيميا** او نورو مرضونو کښې اخته خلقو د امداد د پاره ئې تقريباً 38 زرو نه زيات د وينې ډراپونه ورکړي دي.

د دې نه علاوه نورې هم ډيرې شعبے قائمې دي، په هغې کښې **جامعةُ المَدينه** (چې په هغې کښې عالِم او عالِمَه کورسونه کيږي)، **مدرسةُ المَدينه** (کوم ځائے چې ماشومانو هلکانو او جنيکو ته د قرآنِ کريم د حِفظ و ناظره مفت تعليم ورکولے کيږي)، **مدرسةُ المَدينه بالغان، خُدَّامُ المَساجِد والمَدارس**(د دې تحت د جماتونو او مدرسو جامعاتو وغيره د پاره ځائيونه اخستلے کيږي)، دغه شان د مدني چينل او نورو ډيرو شعبه جاتو په ذريعه دعوتِ اسلامي په ټوله دُنيا کښې د قرآنُ و سُنَّت پيغام عام کولو، کور په کور دين رسولو کښې مصروفِ عمل دے، تاسو هم د دعوتِ اسلامي په ديني کارونو کښې حِصَّه واچوئ! اِنْ شَآءَاللّٰه! د دين او دُنيا بيشميره نيکئ به مو نصيب شي. **الله** پاك دِ مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق را عطا کړې. اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم | اِک اِک گھر میں مچ جائے دُھوم
اس پہ فدا ہو بچہ بچہ | یاالله! مری جھولی بھر دے[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ۞ د سَيِّدَه خاتونِ جنَّت رَضِیَ اللہُ عَنْہَا د ايصال ثواب د پاره ډير ډير صدقه و خيرات اوکړئ، د دعوتِ اسلامي د مختلفو شعبه جاتو د پاره چې څومره کيدے شي حصه ورکړئ او ورسره ورسره په خپلو کورونو کښې هم د فاتحه، ختم شريف او د خپل وس مطابق [د هغې رَضِیَ اللہُ عَنْہَا د اِيصالِ ثواب د پاره] خيرات هُم

[1]...وسائلِ بخشش، صفحه:123۔

ضرور اوکړئ [محترمو اسلامي ورونړو د بزرګانو د ایصالِ ثواب د پاره خیرات نه مُراد صرف غټ خیرات نه دے بلکه که د خپل کور د کسانو د پاره لږ څه راوړئ او د ایصالِ ثواب په نیت ئې پاخه کړئ، فاتحه پرې اولولئ او پخپله ئې اوخورئ نو هُم خیرات اوشو] ، ۞ د سیده فاطمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا د سِیرت لوستلو د پاره د مکتبةُ المَدینه جاري شوے کتاب"**شانِ خاتونِ جنت**" اولولئ، او نورو ته هُم د دې ترغیب ورکړئ، ۞ **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! په رَمَضَانُ المُبارَك کښې شیخِ طریقت، امیرِ اهلسُنَّت هره ورځ دوه مدني مذاکرے (یعنې د عاشقانِ رسول د سوالونو جوابونه ارشاد) فرمائي، یوه مدني مذاکره د مازدیګر د لمَانځه نه پس او بله مدني مذاکره د تراویح نه پس وي. په دریم رَمَضَانُ المُبارَك به هم اِنْ شَآءَاللّٰه د مدني مذاکرے سلسله وي، په دې کښې لازمي شریك شئ، **الله** پاك دِ مونږ ته د علم و عمل توفیق را عطا کړې او د سیده فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا د فیض او برکتونو نه دِ مونږه مالا مال کړې.

**آمِین بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو**!د بیان په آخره کښې د سُنَّتو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آداب د بیانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: **مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّة** "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي."[1]

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

[1]...ابنِ عساکر ج۹ ص۳۴۳

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا		جنّت كښې مې خپل جوړ كړه ګاونډي خوږه آقا

## ''اِسۡتِعَاذَہ (د الله پاك پناه غوښتل)'' سُنَّت دي

**فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چې په ورځ كښې لس ځله د شيطان مَردُود نه د **الله** پاک پناه غواړي، **الله** پاك هغه سره يوه فرښته مقرره كړي چې هغه د هغه بنده نه شيطان لرې كړي. (1)

**اے عاشقانِ رسول! اِسۡتِعَاذَہ** يعنې د **الله** پاك پناه غوښتل **''سُنَّتِ مصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي. زمونږ خوږ آقا مكي مدني مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د شيطان مردود نه علاوه نورو ډيرو آفتونو نه هُم د **الله** پاك پناه غوښتله. مثلاً ❁ خوږ نبـي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د بُخل (يعني كنجُوسئ، شوم والي) نه د **الله** پاك پناه غوښتله، ❁ د بُزدلئ نه به ئې د **الله** پاك پناه غوښتله ، ❁ د سُستئ نه به ئې د **الله** پاك پناه غوښتله، ❁ داسې بوډا والي نه چې انسان لاچاره كوي د هغې نه به ئې د **الله** پاك پناه غوښتله، او ❁ د عذابِ قبر او د دَجَّال د فِتنے نه به ئې هُم د **الله** پاك پناه غوښتله. (2)

**اے عاشقانِ رسول!** زمونږ خوږ نبـي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو بيشكه د **الله** پاك محبوب دے، يقيناً **الله** پاك د هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د حفاظت وعده فرمائيلي ده، يقيناً د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مختلفو آفتونو نه پناه غوښتل د اُمَّت د تعليم د پاره وو، مونږ له پكار دي چې د شيطان مردود نه، د ګناهونو نه او د هر څيز د شر نه د **الله** پاك پناه اوغواړو. څوك چې د **الله** پاك پناه غواړي، **الله** پاك هغه ته پناه عطا كوي. څنګه چې

---

[1] ...مُسۡنَدِ ابو يعلیٰ، صفحه: 320، حديث: 4114۔

[2] ...بستان الواعظين، صفحه: 1110۔

مونږه وايو: **مَعَاذَ اللّٰه** د دې معنٰی ده: د **اللّٰه** پاك پناه. دغه شان ''**اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم**''لولئ، يا ئې په خپله مورنئ ژبه كښې وائې: زه د شيطان د شر نه، د بُخل نه، د عذابِ قبر نه، د كُفر نه، ګناهونو نه او د هر څيز د شر نه د **اللّٰه** پناه غواړم. **اللّٰه** پاك دِ مونږ ټولو ته په سُنّتو باندې د عمل كولو توفيق راكړې. اٰمِیْن بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ**

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِ نَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښیناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریكه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿3﴾د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریكه اووائیو.

## ﴿4﴾د شپږ لاكه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چې په شریكه ئې اُووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

1...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلی اللہ علیہ والہ وسلم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رضی اللہ عنہ تر مينځه کښېنولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صلی اللہ علیہ والہ وسلم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

## جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

---

1...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

3...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1 ... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵